# الاسراء( بنی اسرائیل)

**مکی سورة دی ۱۱۱ آیتونه لری**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

سُبۡحَٰنَ ٱلَّذِيٓ أَسۡرَىٰ بِعَبۡدِهِۦ لَيۡلٗا مِّنَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ إِلَى ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡأَقۡصَا ٱلَّذِي بَٰرَكۡنَا حَوۡلَهُۥ لِنُرِيَهُۥ مِنۡ ءَايَٰتِنَآۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ ۝١

**پاک دی هغه ذات( الله تعالی) چې د شپې( په یوه محدوده برخه کې) یې خپل( مقرب) بنده( محمد صلی الله علیه وسلم په ویښه او جسمانی توګه د مکې معظمې) له مسجد حرام نه مسجد اقصی ته چې شاوخوا چاپیریال یې، مونږ له ( مادی او معنوی) برکتونو ډک کړی دی، ورساوه، ترڅو د خپل قدرت او عظمت( ځینې نښانې ورته وروښایو، بیشکه چې الله تعالی ښه اوریدونکی او لیدونکی ذات دی.**

وَءَاتَيۡنَا مُوسَى ٱلۡكِتَٰبَ وَجَعَلۡنَٰهُ هُدٗى لِّبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ أَلَّا تَتَّخِذُواْ مِن دُونِي وَكِيلٗا ۝٢

**او موسی ته مو هم کتاب ورکړی و چې د بنی اسرائیلو لپاره لارښود و( او ورته مو سپارښتنه وکړه چې) له ما نه غیر، بل کارساز او سرپرست و نه نیسئ.**

ذُرِّيَّةَ مَنۡ حَمَلۡنَا مَعَ نُوحٍۚ إِنَّهُۥ كَانَ عَبۡدٗا شَكُورٗا ۝٣

**( هو- تاسو د هغو خلکو) ځوځات یاست چې له نوح سره مو په کښتئ کې سپاره کړل( او له توفان نه مو وژغورل) رښتیا چې نوح یو شکر کوونکی بنده و( نو تاسو هم باید د هغه په شان په الهی لورینو شاکر او قانع واوسئ).**

وَقَضَيۡنَآ إِلَىٰ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ فِي ٱلۡكِتَٰبِ لَتُفۡسِدُنَّ فِي ٱلۡأَرۡضِ مَرَّتَيۡنِ
وَلَتَعۡلُنَّ عُلُوّٗا كَبِيرٗا ٤

**او مونږ پخپل کتاب( تورات) کې بنی اسرائیلو ته اعلان وکړ چې تاسو به( د بیت المقدس په شاوخوا) ځمکه کې دوه ځله فساد او ګډوډی جوړوئ او( د خپلې باداری او برتری د ټینګولو لپاره به) د ظلم او وحشت بازار تودوئ.**

فَإِذَا جَآءَ وَعۡدُ أُولَىٰهُمَا بَعَثۡنَا عَلَيۡكُمۡ عِبَادٗا لَّنَآ أُوْلِي بَأۡسٖ شَدِيدٖ
فَجَاسُواْ خِلَٰلَ ٱلدِّيَارِۚ وَكَانَ وَعۡدٗا مَّفۡعُولٗا ٥

**نو کله چې ستاسو( د لومړی فساد او طغیان او په مقابل کې درته زمونږ د عذاب او انتقام) نیټه راورسیده، مونږ خپل یو شمیر پیاوړی او باتور جنګیالی بندګان( د بابل پادشاه بخت نصر او لښکر یې) ستاسو په ضد راپورته کړل( چې ستاسو د وژلو، ژوندی نیولو او تړلو او ستاسو د شتمنیو د لوټولو لپاره) یې ستاسو کورونه ګوټ په ګوټ ولټول او بیشکه چې دا یوه عملی کیدونکی وعده وه.**

ثُمَّ رَدَدۡنَا لَكُمُ ٱلۡكَرَّةَ عَلَيۡهِمۡ وَأَمۡدَدۡنَٰكُم بِأَمۡوَٰلٖ وَبَنِينَ
وَجَعَلۡنَٰكُمۡ أَكۡثَرَ نَفِيرًا ٦

**وروسته( چې تاسو د اصلاح لاره غوره کړه او له فساد او طغیان نه مو توبه وویسته) مونږ هم تاسو په هغوی برلاسی او د مال او اولاد په پیرزوینه مو پیاوړی کړئ او ستاسو د (جنګیالیو) افرادو شمیر مو زیات کړ.**

إِنۡ أَحۡسَنتُمۡ أَحۡسَنتُمۡ لِأَنفُسِكُمۡۖ وَإِنۡ أَسَأۡتُمۡ فَلَهَاۚ فَإِذَا جَآءَ وَعۡدُ
ٱلۡأٓخِرَةِ لِيَسُـُٔواْ وُجُوهَكُمۡ وَلِيَدۡخُلُواْ ٱلۡمَسۡجِدَ كَمَا
دَخَلُوهُ أَوَّلَ مَرَّةٖ وَلِيُتَبِّرُواْ مَا عَلَوۡاْ تَتۡبِيرًا ٧

**( بیا مو درته وویل چې) که نیکی وکړئ( او د الله تعالی احکامو ته غاړه کیږدئ) نو ښیګڼه او ګټه یې ستاسو ده او که بدی وکړئ( او د خپل رب له احکامو نه بغاوت وکړئ بیا به مو هم) د خپل ځان په زیان تمامه شی. او بیا چې ستاسو د دویم ځل( سرغړونې او په مقابل کې یې درته د عذاب او عقاب درکولو) وعده را د بره شوه، نو دا ځل مو دربانديِ( د روم قیصر او د هغه سخت زړی جنګیالی) راپورته کړل( چې په سختو ضرباتو سره**

يې) تاسو سپک او ذليل کړئ او د لومړی ځل په شان بيا( اقصی) جومات ته ننوتل او هلته يې په لوټ مار او تباهئ خپل زړونه ساړه  کړل.

عَسَىٰ رَبُّكُمْ أَن يَرْحَمَكُمْ ۚ وَإِنْ عُدتُّمْ عُدْنَا ۘ وَجَعَلْنَا جَهَنَّمَ لِلْكَٰفِرِينَ
حَصِيرًا ﴿٨﴾

(که توبه وباسئ) امید دی چې رب به مو درباندې رحم وکړی او که فساد او سرکشی ته مخه کړئ نو مونږ به هم( له سختې سزا او شدید عذاب سره) دروګرځو او دوزخ مو د کافرانو لپاره د یو تنګ زندان په حيث تیار کړی دی.

إِنَّ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانَ يَهْدِى لِلَّتِى هِىَ أَقْوَمُ وَيُبَشِّرُ ٱلْمُؤْمِنِينَ ٱلَّذِينَ
يَعْمَلُونَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ أَنَّ لَهُمْ أَجْرًا كَبِيرًا ﴿٩﴾

بیشکه چې دا قرآن د یوې مستحکمې او ثابتې لارې ښوونه کوی او نیک عملو مؤمنانو ته د لوی او عظیم اجر زیری ورکوی.

وَأَنَّ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِٱلْءَاخِرَةِ أَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿١٠﴾

او هغو کسانو ته چې د قیامت ( په راتللو) ایمان نه لری( خبر ورکوی چې) مونږ ورته دردناک عذاب  تیار کړی دی.

وَيَدْعُ ٱلْإِنسَٰنُ بِٱلشَّرِّ دُعَآءَهُۥ بِٱلْخَيْرِ ۖ وَكَانَ ٱلْإِنسَٰنُ عَجُولًا ﴿١١﴾

او انسان( د بې حوصلګئ  او غصې په وخت کې  د ځان او اولاد او نورو لپاره داسې ښيراوې کوی   او په هماغه اصرار ورته) شر او بدی غواړی ته به وا، چې د خیر لپاره دعا او غوښتنه کوی، او بیشکه چې انسان یو عجول او تلوارکوونکی مخلوق دی.

وَجَعَلْنَا ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ ءَايَتَيْنِ ۖ فَمَحَوْنَآ ءَايَةَ ٱلَّيْلِ وَجَعَلْنَآ ءَايَةَ ٱلنَّهَارِ
مُبْصِرَةً لِّتَبْتَغُوا۟ فَضْلًا مِّن رَّبِّكُمْ وَلِتَعْلَمُوا۟ عَدَدَ ٱلسِّنِينَ
وَٱلْحِسَابَ ۚ وَكُلَّ شَىْءٍ فَصَّلْنَٰهُ تَفْصِيلًا ﴿١٢﴾

**او شپه او ورځ مو( د خپل قدرت او حکمت) د دوو نښو په حیث پیدا کړی نو شپه مو تیاره او ورځ مو روښانه او ځلیدونکی کړه ترڅو پکې تاسو د خپل رب فضل( رزق او روزی) ولټوی، او د کلونو د شمیر او د( وخت او زمان) په حساب هم وپوهیږی. او( په دینی او دنیوی چارو کې ستاسو د خیر او صلاح وړ ټول مسائل مو په مبارک قرآن کې) په پوره وضاحت درته بیان کړی دی.**

وَكُلَّ إِنسَٰنٍ أَلْزَمْنَٰهُ طَٰٓئِرَهُۥ فِى عُنُقِهِۦ ۖ وَنُخْرِجُ لَهُۥ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ
كِتَٰبًا يَلْقَىٰهُ مَنشُورًا ﴿١٣﴾

**او هر انسان ته مو د هغه عملنامه په غاړه کې ورزوړنده کړې چې د قیامت په ورځ به یې د یوه پرانستی کتاب په شکل ورته په وړاندې کیږدو.**

ٱقْرَأْ كِتَٰبَكَ كَفَىٰ بِنَفْسِكَ ٱلْيَوْمَ عَلَيْكَ حَسِيبًا ﴿١٤﴾

**( او ورته به ووېل شی:) ولوله خپله عملنامه. نن د خپلې محاسبې لپاره همدا ته پخپله کافی یې.**

مَّنِ ٱهْتَدَىٰ فَإِنَّمَا يَهْتَدِى لِنَفْسِهِۦ ۖ وَمَن ضَلَّ فَإِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا ۚ وَلَا تَزِرُ
وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ ۗ وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِينَ حَتَّىٰ نَبْعَثَ رَسُولًا ﴿١٥﴾

**چا چې د هدایت لاره ونیوه نو هدایت یې پخپله ګټه دی او څوک چې بې لارې شی، د ګمراهی زیان یې هم خپل دی او هیڅوک به د بل چا (د ګناه) پیټی پخپلو اوږو وانخلی، او مونږ تر هغه چې( د لاربښووني او اتمام حجت لپاره خلکو ته) پیغمبر، و نه لیږو په هیچا عذاب، نه نازلوو.**

وَإِذَآ أَرَدۡنَآ أَن نُّهۡلِكَ قَرۡيَةً أَمَرۡنَا مُتۡرَفِيهَا فَفَسَقُواْ فِيهَا فَحَقَّ عَلَيۡهَا ٱلۡقَوۡلُ
فَدَمَّرۡنَٰهَا تَدۡمِيرٗا ﴿١٦﴾

**او کله چې مونږ د کوم ښار( یا هیواد) د تباهۍ اراده وکړو، عیاشانو او هوس پرستانو ته یې( د الله د اطاعت، او له ګناهونو نه د توبې) امر وکړو او چې هغوی( زمونږ له حکم او فرمان نه) سر وغړوی او په فساد او عیاشۍ کې نور هم مست شی، د عذاب نزول او تطبیق هم ورباندې حتمی شی او بیا یې په سختو او تباه کوونکو ګوزارونو جرړې وباسو.**

وَكَمۡ أَهۡلَكۡنَا مِنَ ٱلۡقُرُونِ مِنۢ بَعۡدِ نُوحٖۗ وَكَفَىٰ بِرَبِّكَ بِذُنُوبِ عِبَادِهِۦ خَبِيرَۢا
بَصِيرٗا ﴿١٧﴾

**او (په همدې توګه مو) بیا له نوح نه وروسته ډیر ولسونه( عادیان، ثمودیان او نور، د فساد او عیاشۍ له امله) تباه کړی دی. بیشکه چې ستا رب د خپلو بندګانو په ګناهونو د پوهې او لیدو لپاره پوره او کافی دی.**

مَّن كَانَ يُرِيدُ ٱلۡعَاجِلَةَ عَجَّلۡنَا لَهُۥ فِيهَا مَا نَشَآءُ لِمَن نُّرِيدُ ثُمَّ جَعَلۡنَا
لَهُۥ جَهَنَّمَ يَصۡلَىٰهَا مَذۡمُومٗا مَّدۡحُورٗا ﴿١٨﴾

**څوک چې د ( فانی دنیا) عاجله او سملاسی ګټه غواړی او زمونږ اراده وشی نو ورته یې ورکوو خو وروسته مو ورته جهنم تیار کړی چې( د الهی رحمت نه) د رټل شوی او شړل شوی په حیث به ورننوځی.**

وَمَنۡ أَرَادَ ٱلۡأٓخِرَةَ وَسَعَىٰ لَهَا سَعۡيَهَا وَهُوَ مُؤۡمِنٞ فَأُوْلَٰٓئِكَ
كَانَ سَعۡيُهُم مَّشۡكُورٗا ﴿١٩﴾

**او چا چې ایمان راوړی او د اخروی نیکمرغۍ هیله من دی او د لاسته راوړلو لپاره یې مخلصانه هلې ځلې کوی نو کوښښونه به یې په احسنه توګه ومنل شی( او دغه مقدسه ارزو به یې پوره شی).**

كُلّٗا نُّمِدُّ هَٰٓؤُلَآءِ وَهَٰٓؤُلَآءِ مِنۡ عَطَآءِ رَبِّكَۚ وَمَا كَانَ عَطَآءُ رَبِّكَ
مَحۡظُورًا ﴿٢٠﴾

مونږ له هرې ډلې سره مرسته کوو، دنیا غوښتونکو او آخرت غوښتونکو دواړو ته ( په دې دنیا) ستا د رب د نعمتونو څه برخه رسیږی او هیڅوک ستا د رب د لورینو مخه نشی نیولی.

ٱنظُرۡ كَيۡفَ فَضَّلۡنَا بَعۡضَهُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖۚ وَلَلۡأٓخِرَةُ أَكۡبَرُ دَرَجَٰتٖ وَأَكۡبَرُ تَفۡضِيلٗا ٢١

(په دقت سره) وګوره چې مونږ څنګه ځینو خلکو ته په نورو باندې( مادی او معنوی) برتری ورکړې خو د آخرت مرتبې یو له بله ډیرې غوره او ممتازې دی.

لَّا تَجۡعَلۡ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ فَتَقۡعُدَ مَذۡمُومٗا مَّخۡذُولٗا ٢٢

له الله تعالی سره بل څوک په خدایی کې مه شریکوه، که نه( په دنیا او آخرت) کې به ملامت او بې یار او مددګار پاتې شې.

۞ وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّآ إِيَّاهُ وَبِٱلۡوَٰلِدَيۡنِ إِحۡسَٰنًاۚ إِمَّا يَبۡلُغَنَّ عِندَكَ ٱلۡكِبَرَ أَحَدُهُمَآ أَوۡ كِلَاهُمَا فَلَا تَقُل لَّهُمَآ أُفّٖ وَلَا تَنۡهَرۡهُمَا وَقُل لَّهُمَا قَوۡلٗا كَرِيمٗا ٢٣

او دا ستا د رب قاطعانه فرمان دی چې له هغه نه غیر، د بل چا عبادت مه کوئ او د خپلو والدینو سره نیکی وکړئ، که د هغوی یو یا دواړه ستا په خوا کې زړښت ته ورسی( او تاته کومه زوروونکې خبره وکړی) نو ته اوف قدرې ورته هم مه وایه او مقابلتاً یې مه رټه او په نرمۍ او احترام ورسره خبرې کوه.

وَٱخۡفِضۡ لَهُمَا جَنَاحَ ٱلذُّلِّ مِنَ ٱلرَّحۡمَةِ وَقُل رَّبِّ ٱرۡحَمۡهُمَا كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيرٗا ٢٤

او دواړو ته د خپلې مینې او مهربانۍ وزرونه ټیټ کړه او دعا ورته کوه چې ای زما ربه! په هغوی رحم وکړه لکه څنګه چې دوی زه په کوچنیوالی کې پاللی یم.

رَّبُّكُمۡ أَعۡلَمُ بِمَا فِي نُفُوسِكُمۡۚ إِن تَكُونُواْ صَٰلِحِينَ فَإِنَّهُۥ كَانَ لِلۡأَوَّٰبِينَ غَفُورٗا ٢٥

ستاسو رب ستاسو په نيت او اراده ډير ښه پوهيږی، که تاسو نيکان او صالحان ياست( او کوم وخت د نيک نيتی يا زړه تنګی يا کوم ذهنی او فکری پريشانی له امله د والدينو په خدمت او احترام کې درنه سهوه او خطا وشی او بيرته الله تعالی ته توبه وباسی نو دا ستاسو لپاره غوره ده) بيشکه چې الله تعالی د توبه کوونکو لپاره ډير زيات ښنونکی دی.

وَءَاتِ ذَا ٱلْقُرْبَىٰ حَقَّهُۥ وَٱلْمِسْكِينَ وَٱبْنَ ٱلسَّبِيلِ وَلَا تُبَذِّرْ تَبْذِيرًا ﴿٢٦﴾

او خپلو خپلوانو، تنګلاسو او مساپرو ته د هغوی حق ورکړه خو بې ځايه لګښت مه کوه.

إِنَّ ٱلْمُبَذِّرِينَ كَانُوٓا۟ إِخْوَٰنَ ٱلشَّيَـٰطِينِ ۖ وَكَانَ ٱلشَّيْطَـٰنُ لِرَبِّهِۦ كَفُورًا ﴿٢٧﴾

بيشکه چې بې ځايه لګښت کوونکی د شيطانانو ورونه دی او شيطان تل د خپل رب له حکم او فرمانه باغی دی.

وَإِمَّا تُعْرِضَنَّ عَنْهُمُ ٱبْتِغَآءَ رَحْمَةٍ مِّن رَّبِّكَ تَرْجُوهَا فَقُل لَّهُمْ قَوْلًا مَّيْسُورًا ﴿٢٨﴾

او که د خپلې بې وسی له امله( له اقاربو او بې وزلو سره ) مرسته نشې کولی او د الله تعالی تر رحمت او مهربانی پورې وعده ورکوې نو بايد په نرمه او هيله ښنونکې لهجه ترې ښنه وغواړې.

وَلَا تَجْعَلْ يَدَكَ مَغْلُولَةً إِلَىٰ عُنُقِكَ وَلَا تَبْسُطْهَا كُلَّ ٱلْبَسْطِ فَتَقْعُدَ مَلُومًا مَّحْسُورًا ﴿٢٩﴾

او مه خپل لاس له غاړې سره ښنلوه(بخل مه کوه) او مه يې په کامل ډول پرانيزه( په انفاق کې اسراف مه کوه) چې بالاخره به پخپله ملامت او پښيمانه پاتې شی( يعنی د ژوند په ټولو چارو کې اعتدال ساته).

إِنَّ رَبَّكَ يَبْسُطُ ٱلرِّزْقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقْدِرُ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ بِعِبَادِهِۦ خَبِيرًۢا بَصِيرًا ﴿٣٠﴾

بیشکه چې ستا رب هر چا ته چې وغواړي روزي یې پراخوي( او د هر چا لپاره چې اراده وکړي) ورباندې یې محدودوي ځکه هغه د خپلو بندګانو(په مصلحت) ډیر ښه پوه او لیدونکی ذات دی.

وَلَا تَقْتُلُوٓاْ أَوْلَٰدَكُمْ خَشْيَةَ إِمْلَٰقٍۖ نَّحْنُ نَرْزُقُهُمْ وَإِيَّاكُمْۚ إِنَّ قَتْلَهُمْ كَانَ خِطْـًٔا كَبِيرًا ﴿٣١﴾

او خپل اولادونه د فقر او بې وزلی له ویرې مه وژنئ، مونږ هغوی ته هم روزي ورکوو، او تاسو ته هم. بې له شکه چې د هغوی وژل ډیره لويه ګناه ده.

وَلَا تَقْرَبُواْ ٱلزِّنَىٰٓۖ إِنَّهُۥ كَانَ فَٰحِشَةً وَسَآءَ سَبِيلًا ﴿٣٢﴾

او زنا ته مه نږدې کیږئ چې ډیر بد کار او ناوړه لاره ده.

وَلَا تَقْتُلُواْ ٱلنَّفْسَ ٱلَّتِي حَرَّمَ ٱللَّهُ إِلَّا بِٱلْحَقِّۗ وَمَن قُتِلَ مَظْلُومًا فَقَدْ جَعَلْنَا لِوَلِيِّهِۦ سُلْطَٰنًا فَلَا يُسْرِف فِّي ٱلْقَتْلِۖ إِنَّهُۥ كَانَ مَنصُورًا ﴿٣٣﴾

او نفس چې الله تعالی یې وژل حرام کړی،په ناحقه مه وژنئ. او که څوک په ناحقه او مظلومیت سره ووژل شي او مونږ یې وارث ته( د قصاص او دیت) حق او طاقت ورکړو، نو( د حکومت او محکمې په واسطه دې انتقام واخلی او) د قاتل په وژلو کې دې زیاتی نه کوي( نه دې د قاتل مړی مثله کړی او نه دې یې په بدل کې نور کسان ووژنی) ځکه مرسته ورسره شوې (او د انتقام اخستلو حق او صلاحیت یې حکومت او قضا ته سپارل شوی دی).

وَلَا تَقْرَبُواْ مَالَ ٱلْيَتِيمِ إِلَّا بِٱلَّتِي هِيَ أَحْسَنُ حَتَّىٰ يَبْلُغَ أَشُدَّهُۥۚ وَأَوْفُواْ بِٱلْعَهْدِۖ إِنَّ ٱلْعَهْدَ كَانَ مَسْـُٔولًا ﴿٣٤﴾

او د یتیم مال ته مه نږدې کیږئ( تصرف پکې مه کوئ) خو که هدف مو هغه ته خیر رسول( د هغه د مال ساتنه او صیانت وي نو ګناه پکې نشته) تر هغه چې د ځوانی عمر ته رسی. او په خپلو( مشروع) تعهداتو او تړونونو وفا وکړئ( که له الله تعالی سره وي او که شخصی یا ملی او بین المللی وي). ځکه د قیامت په ورځ درنه د هغو پوښتنه کیږي.

وَأَوۡفُواْ ٱلۡكَيۡلَ إِذَا كِلۡتُمۡ وَزِنُواْ بِٱلۡقِسۡطَاسِ ٱلۡمُسۡتَقِيمِۚ ذَٰلِكَ خَيۡرٞ وَأَحۡسَنُ
تَأۡوِيلٗا ﴿٣٥﴾

**او چې پیمانه ورکوئ نو پوره پوره یې ورکړئ( او د وزن وړ شیان) په سمه توګه وتلئ، دا ستاسو لپاره غوره او انجام او عاقبت یې هم ډیر ښه دی.**

وَلَا تَقۡفُ مَا لَيۡسَ لَكَ بِهِۦ عِلۡمٌۚ إِنَّ ٱلسَّمۡعَ وَٱلۡبَصَرَ وَٱلۡفُؤَادَ كُلُّ
أُوْلَٰٓئِكَ كَانَ عَنۡهُ مَسۡـُٔولٗا ﴿٣٦﴾

**او په هغه څه پسې مه ځه( او باور ورباندې مه کوه) چې کره حقیقت یې درته معلوم شوی نه وی، ځکه له سترګو او زړه څخه( د پوهې او پیژندګلوی د حقیقی وسیلو په توګه) پوښتنې کیږی.**

وَلَا تَمۡشِ فِي ٱلۡأَرۡضِ مَرَحًاۖ إِنَّكَ لَن تَخۡرِقَ ٱلۡأَرۡضَ وَلَن تَبۡلُغَ ٱلۡجِبَالَ
طُولٗا ﴿٣٧﴾

**او په ځمکه کې( په غرور او مستئ) خیالولی مه ګرځه، نه دې (په قدمونو) ځمکه څیرلی شې او نه دی قد او قامت د غرونو څوکو ته رسیدی شی.**

كُلُّ ذَٰلِكَ كَانَ سَيِّئُهُۥ عِندَ رَبِّكَ مَكۡرُوهٗا ﴿٣٨﴾

**له دغو ټولو (پورتنیو لارښوونو او احکامو نه سرغړونه) ستا د رب په نزد ناوړه او مکروه ده.**

ذَٰلِكَ مِمَّآ أَوۡحَىٰٓ إِلَيۡكَ رَبُّكَ مِنَ ٱلۡحِكۡمَةِۗ وَلَا تَجۡعَلۡ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ
فَتُلۡقَىٰ فِي جَهَنَّمَ مَلُومٗا مَّدۡحُورًا ﴿٣٩﴾

**دا هغه د حکمت خبرې او احکام دی چې ستا رب یې د وحې په وسیله ابلاغوی، او له الله تعالی سره بل څوک په خدایئ مه نیسه که نه، ملامت او( د خپل رب له رحمته) محروم به جهنم ته وغورزیږې.**

أَفَأَصْفَىٰكُمْ رَبُّكُم بِٱلْبَنِينَ وَٱتَّخَذَ مِنَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ إِنَٰثًا ۚ إِنَّكُمْ لَتَقُولُونَ قَوْلًا عَظِيمًا ﴿٤٠﴾

( ای مشرکانو!) آیا امکان شته چې ستاسو رب به (پخپل ذات تاسو مقدم وګڼی) تاسو به په زامنو ونازوی او د ځان لپاره به ملائکې د لوڼو په حیث غوره کړی؟ بیشکه چې تاسو لوی( دروغ او تومت) وایی.

وَلَقَدْ صَرَّفْنَا فِى هَٰذَا ٱلْقُرْءَانِ لِيَذَّكَّرُوا۟ وَمَا يَزِيدُهُمْ إِلَّا نُفُورًا ﴿٤١﴾

او مونږ په دې قرآن کې( بیلابیل داستانونه، احکام او موعظې) په تفصیل سره بیان کړې چې دوی به ترې پند او علم واخلی خو (برعکس) د هغوی نفرت ورسره نور هم زیات شو.

قُل لَّوْ كَانَ مَعَهُۥٓ ءَالِهَةٌ كَمَا يَقُولُونَ إِذًا لَّٱبْتَغَوْا۟ إِلَىٰ ذِى ٱلْعَرْشِ سَبِيلًا ﴿٤٢﴾

ورته ووایه: که فرضاً( او د دوی په زعم) له الله تعالی سره په ربوبیت کې نور خدایان شریک وی نو هرومرو به یې د عرش د څښتن( مقام ته) د رسیدو لپاره هلې ځلې کولی.

سُبْحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يَقُولُونَ عُلُوًّا كَبِيرًا ﴿٤٣﴾

پاک او ډیر لوړ دی د الله تعالی ذات د دوی له دغه ډول کاذبانه ادعاو څخه.

تُسَبِّحُ لَهُ ٱلسَّمَٰوَٰتُ ٱلسَّبْعُ وَٱلْأَرْضُ وَمَن فِيهِنَّ ۚ وَإِن مِّن شَىْءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ
بِحَمْدِهِۦ وَلَٰكِن لَّا تَفْقَهُونَ تَسْبِيحَهُمْ ۗ إِنَّهُۥ كَانَ حَلِيمًا غَفُورًا ﴿٤٤﴾

اوه ګونی آسمانونه او ځمکه او په هغو کې موجودات او مخلوقات، ټول د الله تعالی تسبیح او ثنا وایی، او هیڅ داسې شی نشته چې د الله پاک تسبیحات و نه وایی خو تاسو د هغو په تسبیحاتو نه پوهیږی. بیشکه چې الله تعالی زغم لرونکی او ببښونکی ذات دی.

وَإِذَا قَرَأْتَ ٱلْقُرْءَانَ جَعَلْنَا بَيْنَكَ وَبَيْنَ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِٱلْءَاخِرَةِ حِجَابًا مَّسْتُورًا ﴿٤٥﴾

او کله چې ته قرآن لولې، نو مونږ ستا او د آخرت د منکرینو ترمنځ، یوه پټه او نا مرئی پرده غوړوو( تر څو دوی د لجاجت او کفر له امله له قرآن پوهنې څخه محروم شی).

وَجَعَلْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً أَن يَفْقَهُوهُ وَفِي آذَانِهِمْ وَقْرًا ۚ وَإِذَا ذَكَرْتَ
رَبَّكَ فِي الْقُرْآنِ وَحْدَهُ وَلَّوْا عَلَىٰ أَدْبَارِهِمْ نُفُورًا ﴿٤٦﴾

او د هغوی زړونه مو د( غفلت) په پردو پوښلی او غوږونه مو ورله داسې درانه او کاڼه کړی( چې د حقیقت غږ نه اوری) او کله چې ته په قرآن کې خپل رب په وحدانیت سره یاد کړې نو دوی درنه په نفرت سره مخ واړوی.

نَّحْنُ أَعْلَمُ بِمَا يَسْتَمِعُونَ بِهِ إِذْ يَسْتَمِعُونَ إِلَيْكَ وَإِذْ هُمْ نَجْوَىٰ إِذْ يَقُولُ
الظَّالِمُونَ إِن تَتَّبِعُونَ إِلَّا رَجُلًا مَّسْحُورًا ﴿٤٧﴾

مونږ پوهیږو چې هغوی د څه لپاره تاته غوږ نیولی وی، کله چې دغه ظالمان څه اوری او بیا یو بل ته پټ پټ وایې، تاسو خو صرف د یوه کوډو وهلی سړی اطاعت کوی.

انظُرْ كَيْفَ ضَرَبُوا لَكَ الْأَمْثَالَ فَضَلُّوا فَلَا يَسْتَطِيعُونَ سَبِيلًا ﴿٤٨﴾

وګوره چې څه ډول خبرې درپورې تړی، حقیقت دا دی چې دوی ګمراهان دی او د هدایت لاره نشی میندلی.

وَقَالُوا أَإِذَا كُنَّا عِظَامًا وَرُفَاتًا أَإِنَّا لَمَبْعُوثُونَ خَلْقًا جَدِيدًا ﴿٤٩﴾

او وایی: کله چې مو هډوکی وراسته او خاورې شی نو بیا به په نوی خلقت سره راپورته شو؟

۞ قُلْ كُونُوا حِجَارَةً أَوْ حَدِيدًا ﴿٥٠﴾

( ای پیغمبره!) ورته ووایه که تیږې شی که اوسپنه.

أَوْ خَلْقًا مِّمَّا يَكْبُرُ فِي صُدُورِكُمْ ۚ فَسَيَقُولُونَ مَن يُعِيدُنَا ۖ قُلِ الَّذِي
فَطَرَكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ ۚ فَسَيُنْغِضُونَ إِلَيْكَ رُءُوسَهُمْ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هُوَ ۖ
قُلْ عَسَىٰ أَن يَكُونَ قَرِيبًا ﴿٥١﴾

او یا په بل کوم داسې سخت شی بدل شی چې په فکر کې مو راځی( خو بیا به هم بې له شکه راژوندی کړی شی.) کافران به بیا پوښتنه وکړی چې څوک به مو بیرته راژوندی کړی؟ ورته ووایه: هغه ذات( الله تعالی به مو بیرته راژوندی کړی) چې لومړی ځل یې تاسو له نیست نه هست کړی واست. نو د ( ملندو او استهزاء په

ډول به) درته سرونه وخوروی او وبه وایی چې دغه (دوباره ژوندون) به کله وی؟ ورته ووایه: کیدی شی ډیر نږدې وی.

يَوۡمَ يَدۡعُوكُمۡ فَتَسۡتَجِيبُونَ بِحَمۡدِهِۦ وَتَظُنُّونَ إِن لَّبِثۡتُمۡ إِلَّا قَلِيلٗا ﴿٥٢﴾

هغه ورځ چې تاسو( له خپلو قبرونو نه د حشر د میدان په لور) راوبلل شی ، د الله تعالی د ثنا او تسبیحاتو په ویلو سره به ورته لبیک وایاست او ګومان به کوئ چې( په دنیا یا برزخ کې) مو څه لنډه موده تیره کړې ده.

وَقُل لِّعِبَادِي يَقُولُواْ ٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُۚ إِنَّ ٱلشَّيۡطَٰنَ يَنزَغُ بَيۡنَهُمۡۚ إِنَّ ٱلشَّيۡطَٰنَ كَانَ لِلۡإِنسَٰنِ عَدُوّٗا مُّبِينٗا ﴿٥٣﴾

او زما بندګانو ته ووایه چې تل غوره او ښې خبرې کوی، په رښتیا چې شیطان( د سپکو سپورو ویناو په ترویج سره) د هغوی ترمنځ د دښمنۍ او کینې اور بلوی، بیشکه چې شیطان د انسان ابدی او ښکاره دښمن دی.

رَّبُّكُمۡ أَعۡلَمُ بِكُمۡۖ إِن يَشَأۡ يَرۡحَمۡكُمۡ أَوۡ إِن يَشَأۡ يُعَذِّبۡكُمۡۚ وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ عَلَيۡهِمۡ وَكِيلٗا ﴿٥٤﴾

ستاسو رب ستاسو په حال ډیر ښه خبر دی، که وغواړی په تاسو به( د ایمان او اسلام د تشرف) رحم وکړی او که یې اراده وشی( نو د کفر او ګمراهۍ) عذاب به دربانديې نازل کړی، او ای پیغمبره ته مو په خلکو باندی څارونکی او ذمه وار نه یې ټاکلی.

وَرَبُّكَ أَعۡلَمُ بِمَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۗ وَلَقَدۡ فَضَّلۡنَا بَعۡضَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ عَلَىٰ بَعۡضٖۖ وَءَاتَيۡنَا دَاوُۥدَ زَبُورٗا ﴿٥٥﴾

او ستا رب د آسمانونو او ځمکې د ټولو موجوداتو په حال هم ښه پوهیږی او بیشکه چې مونږ ځینو پیغمبرانو ته په ځینو نورو امتیاز او برتری ورکړې او داود ته مو زبور ورکړی و.

قُلِ ٱدْعُوا۟ ٱلَّذِينَ زَعَمْتُم مِّن دُونِهِۦ فَلَا يَمْلِكُونَ كَشْفَ ٱلضُّرِّ عَنكُمْ
وَلَا تَحْوِيلًا ٥٦

( کافرانو او مشرکانو ته) ووایه: خپل باطل خدایان چې تاسو د الله تعالی په مقابل کې په ربوبیت نیولی وو، راوغواړئ چې ستاسو نه کوم درد او غم لیرې کړی شي او یا درنه د مصیبتونو لورې بل خوا واړوي.

أُو۟لَـٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ يَدْعُونَ يَبْتَغُونَ إِلَىٰ رَبِّهِمُ ٱلْوَسِيلَةَ أَيُّهُمْ أَقْرَبُ
وَيَرْجُونَ رَحْمَتَهُۥ وَيَخَافُونَ عَذَابَهُۥٓ ۚ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ كَانَ مَحْذُورًا ٥٧

هغه تش په نوم خدایان چې مشرکین یې عبادت کوي( که پرښتې دي، که پیریان دي او که عیسی) ټول خپل رب ته د تقرب وسیلې لټوي او هلې ځلې یې دا دي چې له یو بل نه( وړاندې او لا زیات) الله تعالی ته نږدې شي، د رحمت او مهربانی لپاره یې هیله من دي او له عذابه یې ویرېږي ځکه ستا د رب عذاب رښتیا هم چې د ویرې وړ دی.

وَإِن مِّن قَرْيَةٍ إِلَّا نَحْنُ مُهْلِكُوهَا قَبْلَ يَوْمِ ٱلْقِيَـٰمَةِ أَوْ
مُعَذِّبُوهَا عَذَابًا شَدِيدًا ۚ كَانَ ذَٰلِكَ فِى ٱلْكِتَـٰبِ مَسْطُورًا ٥٨

او( د باغیانو او مفسدانو) هیڅ داسې ښار نشته چې له قیامت نه وړاندې به یې مونږ له خاورو سره خاورې او تباه نه کړو او یا به ورباندې سخت عذاب نازل نه کړو. دغه عاقبت په کتاب( لوح محفوظ) کې ثبت دی.

وَمَا مَنَعَنَآ أَن نُّرْسِلَ بِٱلْـَٔايَـٰتِ إِلَّآ أَن كَذَّبَ بِهَا ٱلْأَوَّلُونَ ۚ وَءَاتَيْنَا
ثَمُودَ ٱلنَّاقَةَ مُبْصِرَةً فَظَلَمُوا۟ بِهَا ۚ وَمَا نُرْسِلُ بِٱلْـَٔايَـٰتِ إِلَّا
تَخْوِيفًا ٥٩

او( ای پیغمبره!) د معجزو له استولو نه یوازې همدې خبرې منع کړی یو چې پخوانیو خلکو دروغ ګڼلې وې (او له همدې امله تباه شول) او ثمودیانو ته مو( د غره له تیږې نه راویستې) اوښه د ځرګندې معجزې په توګه وړاندې کړه، خو هغوی پرې تیری وکړ( او په ظالمانه توګه یې ووژله) او معجزې مونږ یوازې د خلکو د ویرولو لپاره استوو.

وَإِذۡ قُلۡنَا لَكَ إِنَّ رَبَّكَ أَحَاطَ بِٱلنَّاسِۚ وَمَا جَعَلۡنَا ٱلرُّءۡيَا ٱلَّتِيٓ
أَرَيۡنَٰكَ إِلَّا فِتۡنَةٗ لِّلنَّاسِ وَٱلشَّجَرَةَ ٱلۡمَلۡعُونَةَ فِي ٱلۡقُرۡءَانِۚ وَنُخَوِّفُهُمۡ فَمَا
يَزِيدُهُمۡ إِلَّا طُغۡيَٰنٗا كَبِيرٗا ٦٠

**او( هغه وخت یاد کړه) چې تاته مو وویل: بیشکه چې ستا رب( له هرې خوا) په خلکو احاطه او تسلط لری، او هغه څه چې مونږ تاته د معراج په شپه دروښودل د خلکو لپاره یو ازمیښت و، او هغه د ( زقوم) ونه هم ازمیښت دی چې په قرآن کې د ملعونې ونې په نوم یاده شوېده. او څومره چې مونږ، کافران او مشرکان د شرک او کفر له ناوړه عاقبت نه ویروو، د هغوی د بغاوت او سرکشۍ اور لاپسې تازه کیږی.**

وَإِذۡ قُلۡنَا لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ ٱسۡجُدُواْ لِأٓدَمَ فَسَجَدُوٓاْ إِلَّآ إِبۡلِيسَ قَالَ
ءَأَسۡجُدُ لِمَنۡ خَلَقۡتَ طِينٗا ٦١

**او کله چې مونږ پرښتو ته امر وکړ چې آدم ته سجده وکړئ، ټولو ورته سجده وکړه خو ابلیس انکار وکړ او ویې ویل: آیا هغه چاته سجده وکړم چې له خټې دې پیدا کړی دی؟**

قَالَ أَرَءَيۡتَكَ هَٰذَا ٱلَّذِي كَرَّمۡتَ عَلَيَّ لَئِنۡ أَخَّرۡتَنِ إِلَىٰ يَوۡمِ
ٱلۡقِيَٰمَةِ لَأَحۡتَنِكَنَّ ذُرِّيَّتَهُۥٓ إِلَّا قَلِيلٗا ٦٢

**بیا یې وویل: ( ای الله) په دې مې پوه کړه چې دغه سړی ته دې ولې په ما باندې برتری او کرامت ورکړ؟ (قسم دی) که تر قیامته راته ژوند راکړې، د څه لږ شمیر نه غیر به یې، د آل اولاد په غاړو کې غړوندی واچوم(او له ځان سره به یې د ګمراهۍ او تباهۍ ابدی کندې ته وغورزوم).**

قَالَ ٱذۡهَبۡ فَمَن تَبِعَكَ مِنۡهُمۡ فَإِنَّ جَهَنَّمَ جَزَآؤُكُمۡ جَزَآءٗ
مَّوۡفُورٗا ٦٣

**الله تعالی وفرمایل: ورځه، له هغوی نه چې هر یو ستا پیروی وکړی، سزا به یې د جهنم اور وی، تر ټولو سخته او له جرم سره موافقه سزا.**

وَٱسۡتَفۡزِزۡ مَنِ ٱسۡتَطَعۡتَ مِنۡهُم بِصَوۡتِكَ وَأَجۡلِبۡ عَلَيۡهِم بِخَيۡلِكَ
وَرَجِلِكَ وَشَارِكۡهُمۡ فِي ٱلۡأَمۡوَٰلِ وَٱلۡأَوۡلَٰدِ وَعِدۡهُمۡۚ وَمَا
يَعِدُهُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ إِلَّا غُرُورًا ﴿٦٤﴾

او چې څومره دې له وسه پوره وی، په خپل آواز ( وسوسو او عشقی سندرو) سره، هغوی بې لارې کړه او( ګناه او سرکشی ته یې وهڅوه) خپل سپاره او پیاده لښکریان پرې ورمات کړه،په مال او اولاد کې ورسره شریک شه او ( د ډول ډول ) وعدو په لومو کې یې ښکیل کړه.او بیشکه چې د شیطان وعده په درواغو او فریب ولاړه ده.

إِنَّ عِبَادِي لَيۡسَ لَكَ عَلَيۡهِمۡ سُلۡطَٰنٞۚ وَكَفَىٰ بِرَبِّكَ
وَكِيلٗا ﴿٦٥﴾

( خو په دې هم پوه شه چې) زما په اصیلو بندګانو به ستا لاس هیڅکله بر نشی. او( د هغوی لپاره) همدا کفایت کوی چې ستا رب یې ( ستا له شره )ساتونکی او مرسته کوونکی دی.

رَّبُّكُمُ ٱلَّذِي يُزۡجِي لَكُمُ ٱلۡفُلۡكَ فِي ٱلۡبَحۡرِ لِتَبۡتَغُواْ مِن فَضۡلِهِۦٓۚ
إِنَّهُۥ كَانَ بِكُمۡ رَحِيمٗا ﴿٦٦﴾

او( ای انسانی پرګنو!) ستاسو رب هغه ذات دی چې ستاسو لپاره یې په سمندر کې د کښتیو چلولو سیستم ایجاد او رایج کړ( چې تاسو پکې له یوې وچې نه بلې ته ځی راځئ) او د هغه د فضل( رزق او اقتصادی ګټو) د لاسته راوړلو لپاره هلې ځلې کوئ. بیشکه چې الله تعالی په تاسو ډیر زیات مهربان دی.

وَإِذَا مَسَّكُمُ ٱلضُّرُّ فِي ٱلۡبَحۡرِ ضَلَّ مَن تَدۡعُونَ إِلَّآ إِيَّاهُۖ فَلَمَّا نَجَّىٰكُمۡ إِلَى ٱلۡبَرِّ
أَعۡرَضۡتُمۡۚ وَكَانَ ٱلۡإِنسَٰنُ كَفُورًا ﴿٦٧﴾

او چې په بحر کې درته کومه صدمه او تکلیف ورسی، نو د الله تعالی نه غیر، که هر چاته د مرستې چیغې ووهئ، ټول درنه ورک شی، خو چې مونږ مو وچې ته راوباسو او نجات درکړو نو بیا ( د الله تعالی په نعمتونو سترګې پټوی او ) مخ اړوئ، ریښتیا چې انسان ډیر ناشکره دی.

أَفَأَمِنتُمۡ أَن يَخۡسِفَ بِكُمۡ جَانِبَ ٱلۡبَرِّ أَوۡ يُرۡسِلَ عَلَيۡكُمۡ حَاصِبٗا
ثُمَّ لَا تَجِدُواْ لَكُمۡ وَكِيلًا ٦٨

**آیا له دې نه په امن کې یاست چې په وچه کې مو، په ځمکه ورننه باسی، یا درباندې تیږی وروونکی سخت باد راوالوزوی او بیا تاسو د ځان لپاره هیڅ ساتونکی پیدا نه کړی.**

أَمۡ أَمِنتُمۡ أَن يُعِيدَكُمۡ فِيهِ تَارَةً أُخۡرَىٰ فَيُرۡسِلَ عَلَيۡكُمۡ قَاصِفٗا مِّنَ
ٱلرِّيحِ فَيُغۡرِقَكُم بِمَا كَفَرۡتُمۡ ثُمَّ لَا تَجِدُواْ لَكُمۡ عَلَيۡنَا بِهِۦ تَبِيعٗا ٦٩

**یا له دې نه په امان کې یاست، چې بیرته مو سمندر ته واستوی او تباه کوونکی توپان درباندې راوالوزوی او د کفران او ناشکرۍ په سزا کې مو ډوب کړی، نو بیا به زمونږ د اقداماتو په مقابل کې د ځان لپاره هیڅ ملاتړ کوونکی ونه مومی.**

۞ وَلَقَدۡ كَرَّمۡنَا بَنِيٓ ءَادَمَ وَحَمَلۡنَٰهُمۡ فِي ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِ وَرَزَقۡنَٰهُم مِّنَ
ٱلطَّيِّبَٰتِ وَفَضَّلۡنَٰهُمۡ عَلَىٰ كَثِيرٖ مِّمَّنۡ خَلَقۡنَا تَفۡضِيلٗا ٧٠

**بیشکه چې مونږ د آدم اولاد ته کرامت ورکړی او هغوی ته مو په وچه او بحر کې د سپرلۍ وسایل برابر او په واک کې ورکړی، له پاکو نعمتونو څخه مو ورته روزی ورکړې او په خپلو زیاتره مخلوقاتو مو ورته برتری او فضیلت هم ورببښلی دی.**

يَوۡمَ نَدۡعُواْ كُلَّ أُنَاسِۭ بِإِمَٰمِهِمۡۖ فَمَنۡ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ بِيَمِينِهِۦ
فَأُوْلَٰٓئِكَ يَقۡرَءُونَ كِتَٰبَهُمۡ وَلَا يُظۡلَمُونَ فَتِيلٗا ٧١

**هغه ورځ (په یاد کې ونیسئ) چې هره ډله به یې له رهبر سره راوغواړو، چا ته چې یې عملنامه په ښی لاس ورکړی شوه( په خوښۍ او خوشحالۍ سره به یې) لولی او یو بڅری ظلم زیاتی به هم ورسره ونشی.**

وَمَن كَانَ فِي هَٰذِهِۦٓ أَعۡمَىٰ فَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ أَعۡمَىٰ وَأَضَلُّ سَبِيلٗا ٧٢

او څوک چې په دې دنیا( له حق لیدنې او پیژندنې نه) ړوند و، په آخرت کې به لا پسې زیات ړوند او لار ورکی وی.

وَإِن كَادُواْ لَيَفۡتِنُونَكَ عَنِ ٱلَّذِيٓ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ لِتَفۡتَرِيَ عَلَيۡنَا غَيۡرَهُۥۖ وَإِذٗا لَّٱتَّخَذُوكَ خَلِيلٗا ٧٣

او( ای پیغمبره!) نږدې وه چې ته( مشرکانو) زمونږ له نازل کړی شویو احکامو په باب له ازمیښت سره مخامخ کړی وې او هغه څه دې ویلی وی چې زمونږ د وحې په محتویاتو کې شامل نه وو، نو په دغه صورت کې به دوی ستا سره دوستی کړی وی.

وَلَوۡلَآ أَن ثَبَّتۡنَٰكَ لَقَدۡ كِدتَّ تَرۡكَنُ إِلَيۡهِمۡ شَيۡـٔٗا قَلِيلًا ٧٤

او که مونږ تاته ثبات نه وی درکړی( او ستا مورال او دریځ مو، نه وی  پیاوړی کړی) نو نږدې وه چې د هغوی د خواهشاتو په لور لږ څه متمایل شوی وی.

إِذٗا لَّأَذَقۡنَٰكَ ضِعۡفَ ٱلۡحَيَوٰةِ وَضِعۡفَ ٱلۡمَمَاتِ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ عَلَيۡنَا نَصِيرٗا ٧٥

او بیا به مو درته په دنیا کې دوه چنده( عذاب) او په آخرت کې هم دوه چنده( عذاب) درڅکلی و، او زمونږ په مقابل کې به دې د ځان ژغورنې لپاره هیڅ مرستندوی نه وی موندلی.

وَإِن كَادُواْ لَيَسۡتَفِزُّونَكَ مِنَ ٱلۡأَرۡضِ لِيُخۡرِجُوكَ مِنۡهَاۖ وَإِذٗا لَّا يَلۡبَثُونَ خِلَٰفَكَ إِلَّا قَلِيلٗا ٧٦

او نږدې وه( مشرکانو غوښتل) چې تا له دې خاورې( مکې معظمې) بې ځایه او وباسی، خو که تا وباسی، دوی به هم یکې له تا وروسته، تر ډیره پاتې نشی( او له سخت عذاب سره به مخ شی. لکه چې همداسې وشول او د پیغمبر علیه السلام له هجرت نه یونیم کال وروسته، د مکې لوی سرداران او مشران له مکې ووتل او د بدر په

میدان کې په ذلت او خوارۍ سره ووژل شول، او څو کاله وروسته، نه یوازې مکه معظمه د مسلمانانو په لاس فتحه شوه او د کفارو د شان شوکت شمله په ځمکه راوغورزیده، بلکه په ټول جزیرة العرب کې د اسلام کوم سرسخته دښمن هم پاتې نه شو).

سُنَّةَ مَن قَدۡ أَرۡسَلۡنَا قَبۡلَكَ مِن رُّسُلِنَاۖ وَلَا تَجِدُ لِسُنَّتِنَا تَحۡوِيلًا ﴿٧٧﴾

(دغه زمونږ پخوانی) دستور او کړنلاره ده چې ستا نه وړاندې د پخوانیو پیغمبرانو( د امتونو) لپاره مو هم غوره کړې وه، او ته به هیڅکله زمونږ په دغه کړنلاره او سیاست کې بدلون و نه مومې.

أَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ لِدُلُوكِ ٱلشَّمۡسِ إِلَىٰ غَسَقِ ٱلَّيۡلِ وَقُرۡءَانَ ٱلۡفَجۡرِۖ إِنَّ قُرۡءَانَ ٱلۡفَجۡرِ كَانَ مَشۡهُودًا ﴿٧٨﴾

( نو د دوی د حیلو او خاینانه چلوټو هیڅ پروا مه ساته او خپل رب ته متوجه اوسه) غرمه مهال د لمر له زوال نه د شپې د تیارې خپریدو پورې( د ماسپښین، مازدیګر، ماښام او ماخوستن) لمونځونه اداء کړه او قرآن فجر( د سهار لمونځ) قایم کړه، ځکه د سهار لمونځ ( د شپې او ورځې د مؤظفو پرښتو) د مشاهدې او نظارت لاندې دی.

وَمِنَ ٱلَّيۡلِ فَتَهَجَّدۡ بِهِۦ نَافِلَةً لَّكَ عَسَىٰٓ أَن يَبۡعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَّحۡمُودًا ﴿٧٩﴾

او د شپې یوه برخه د عبادت لپاره وټاکه چې ( د فرض لمانځه نه وروسته) یوازې ستا لپاره ځانګړی نفلی عبادت دی. امید دی چې ستا رب تاته( د دغه خاص عبادت په برکت، د ستاینې وړ اعلی) مقام محمود در په برخه کړی.

وَقُل رَّبِّ أَدۡخِلۡنِي مُدۡخَلَ صِدۡقٖ وَأَخۡرِجۡنِي مُخۡرَجَ صِدۡقٖ وَٱجۡعَل لِّي مِن لَّدُنكَ سُلۡطَٰنٗا نَّصِيرٗا ﴿٨٠﴾

او ووایه: ای زما ربه! چیرې چې ما رسوې نو له صداقت(عزت او وقار) سره مې ورسوه او له هر ښاره چې مې وباسې هم له صداقت(عزت او حرمت) سره مې وباسه او له خپل لوری راته حامی او مرستندوی وټاکه.

وَقُلۡ جَآءَ ٱلۡحَقُّ وَزَهَقَ ٱلۡبَٰطِلُۚ إِنَّ ٱلۡبَٰطِلَ كَانَ زَهُوقٗا ٨١

**( له هجرت نه کلونه کلونه وړاندې چې لا د اسلام د برلاسۍ هیڅ څرک هم نه لګیده، الله تعالی خپل رسول ته د فتحې زیری ورکړ او ورته یې وفرمایل چې مکې معظمې ته په فاتحانه ډول له داخلیدو سره سم خلکو ته) اعلان وکړه چې حق دین ( اسلام) راغی او باطل( کفر او شرک) له منځه لاړ، بیشکه چې باطل له منځه تلونکی دی.**

وَنُنَزِّلُ مِنَ ٱلۡقُرۡءَانِ مَا هُوَ شِفَآءٞ وَرَحۡمَةٞ لِّلۡمُؤۡمِنِينَ وَلَا يَزِيدُ
ٱلظَّٰلِمِينَ إِلَّا خَسَارٗا ٨٢

**او مونږ په قرآن کې تاته هغه آیتونه نازلوو، چې د مؤمنانو لپاره( د ټولو جسمانی او روحانی ناروغیو) شفا او رحمت دی خو د ظالمانو( او منکرینو) لپاره، له زیان( او هلاکت) نه پرته هیڅ نه زیاتوی.**

وَإِذَآ أَنۡعَمۡنَا عَلَى ٱلۡإِنسَٰنِ أَعۡرَضَ وَنَـَٔا بِجَانِبِهِۦۖ وَإِذَا مَسَّهُ ٱلشَّرُّ كَانَ
يَـُٔوسٗا ٨٣

**او کله چې مونږ انسان ته یو نعمت وربښلی نو بیا یې رانه مخ اړولی او په غرور او تکبر سره زمونږ له لارې اوښتی، خو کله چې کوم مصیبت او ستونزه ورته پیښه شی نو ډیر زیات ناهیلی او مایوسه شی( ځکه زمونږ له کامل قدرت او رحمت نه غافل دی).**

قُلۡ كُلّٞ يَعۡمَلُ عَلَىٰ شَاكِلَتِهِۦ فَرَبُّكُمۡ أَعۡلَمُ بِمَنۡ هُوَ أَهۡدَىٰ سَبِيلٗا ٨٤

**(ای پیغمبره!) ووایه چې هر څوک( د خپل خوی او خصلت په اساس) پخپله یوه کړنلاره روان دی، خو ستا رب ډیر ښه پوهیږی چې څوک د هدایت په لاره برابر دی.**

وَيَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلرُّوحِۖ قُلِ ٱلرُّوحُ مِنۡ أَمۡرِ رَبِّي وَمَآ أُوتِيتُم مِّنَ
ٱلۡعِلۡمِ إِلَّا قَلِيلٗا ٨٥

**او خلک ستا نه د روح په باب پوښتنه کوي، ورته ووایه: روح زما د رب حکم دی او تاسو ته یې د پوهې او پیژندګلوۍ ډیره لږه برخه درکړې شوې ده.**

وَلَئِن شِئۡنَا لَنَذۡهَبَنَّ بِٱلَّذِيٓ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ بِهِۦ عَلَيۡنَا وَكِيلًا ﴿٨٦﴾

**او که مونږ وغواړو نو هر څه چې مو درته د وحې په واسطه نازل کړي( ټول به له اذهانو او لیکنو څخه) محو کړو او بیا به یې د بیرته لاسته راوړلو لپاره، هیڅوک زمونږ په مقابل کې ستا مرسته و نه کړي.**

إِلَّا رَحۡمَةٗ مِّن رَّبِّكَۚ إِنَّ فَضۡلَهُۥ كَانَ عَلَيۡكَ كَبِيرٗا ﴿٨٧﴾

**خو دا یوازې ستا د رب رحمت او مهرباني ده( چې قرآن عظیم الشأن په اذهانو او لیکنو کې ساتل کیږي) او بیشکه چې د هغه مهرباني په تا ډیره زیاته ده .**

قُل لَّئِنِ ٱجۡتَمَعَتِ ٱلۡإِنسُ وَٱلۡجِنُّ عَلَىٰٓ أَن يَأۡتُواْ بِمِثۡلِ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانِ لَا يَأۡتُونَ بِمِثۡلِهِۦ وَلَوۡ كَانَ بَعۡضُهُمۡ لِبَعۡضٖ ظَهِيرٗا ﴿٨٨﴾

**( ای پیغمبره!) ووایه: که ټول پیریان او انسانان د یو بالمثل قرآن د راوړاندې کولو لپاره سره لاسونه یو کړي بیا به هم د هغه د مثل په راوړلو( جوړولو) بریالي نشي.**

وَلَقَدۡ صَرَّفۡنَا لِلنَّاسِ فِي هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانِ مِن كُلِّ مَثَلٖ فَأَبَىٰٓ أَكۡثَرُ ٱلنَّاسِ إِلَّا كُفُورٗا ﴿٨٩﴾

**او مونږ په دې قرآن کې د انساني پرګنو د لارښوونې لپاره بیلابیل مثالونه او داستانونه بیان کړي خو زیاترو خلکو( د دغه لوی نعمت) کفران او ناشکري وکړه.**

وَقَالُواْ لَن نُّؤۡمِنَ لَكَ حَتَّىٰ تَفۡجُرَ لَنَا مِنَ ٱلۡأَرۡضِ يَنۢبُوعًا ﴿٩٠﴾

**او( قریش تاته) وایي: تر هغه درباندې ایمان نه راوړو، ترڅو( د مکې له وچې او سوزوونکې) ځمکې نه زمونږ لپاره چینې را روانې کړې.**

أَوۡ تَكُونَ لَكَ جَنَّةٞ مِّن نَّخِيلٖ وَعِنَبٖ فَتُفَجِّرَ ٱلۡأَنۡهَٰرَ خِلَٰلَهَا
تَفۡجِيرًا ﴿٩١﴾

يا د خرماو او انګورو داسې بڼ ولرې چې تا پکې ويالې رواني کړی وی.

أَوۡ تُسۡقِطَ ٱلسَّمَآءَ كَمَا زَعَمۡتَ عَلَيۡنَا كِسَفًا أَوۡ تَأۡتِيَ بِٱللَّهِ
وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ قَبِيلًا ﴿٩٢﴾

او يا لکه څنګه چې ( د قدرت) ادعا کوې، آسمان ټوټه ټوټه او په مونږ يې راوغورځوې او يا دا چې الله او پرښتې مونږ ته را مخامخ کړې( چې مونږ يې ووينو).

أَوۡ يَكُونَ لَكَ بَيۡتٞ مِّن زُخۡرُفٍ أَوۡ تَرۡقَىٰ فِي ٱلسَّمَآءِ وَلَن نُّؤۡمِنَ
لِرُقِيِّكَ حَتَّىٰ تُنَزِّلَ عَلَيۡنَا كِتَٰبٗا نَّقۡرَؤُهُۥۗ قُلۡ سُبۡحَانَ رَبِّي هَلۡ كُنتُ
إِلَّا بَشَرٗا رَّسُولٗا ﴿٩٣﴾

او يا بايد د سرو زرو جوړ شوی قصر ولرې، يا آسمان ته ختلی وشې او يوازې پورته تلل دې هم نه منو تر هغه چې( د خپل نبوت د اثبات لپاره) يو ليکل شوی سند راوړی چې مونږ يې ولولو! (ای پيغمبره ورته) ووايه پاک دی زما رب( له دې چې ستاسو جاهلانو دغه ډول مزخرفو فرمايشاتو ته ځواب ووايی) زه خو يو بشر يم( چې ستاسو د لارښوونې لپاره) رالیږل شوی يم( نه دا چې ستاسو بې ځايه غوښتنې پوره کړم).

وَمَا مَنَعَ ٱلنَّاسَ أَن يُؤۡمِنُوٓاْ إِذۡ جَآءَهُمُ ٱلۡهُدَىٰٓ إِلَّآ أَن قَالُوٓاْ أَبَعَثَ ٱللَّهُ
بَشَرٗا رَّسُولٗا ﴿٩٤﴾

د هدايت له راتګ نه وروسته، خلک يوازې همدې (يوې پوښتنې) له ايمان راوړلو نه منع کړل چې ويل يې: ولې، الله تعالی يو بشر د پيغمبر په حيث راوليږه؟

قُل لَّوۡ كَانَ فِي ٱلۡأَرۡضِ مَلَٰٓئِكَةٞ يَمۡشُونَ مُطۡمَئِنِّينَ لَنَزَّلۡنَا
عَلَيۡهِم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ مَلَكٗا رَّسُولٗا ﴿٩٥﴾

( ای پیغمبره!) ورته ووایه که په ځمکه کې ملائک په اطمینان سره ګرځیدی راګرځیدی، نو یقیناً چې مونږ به دوی ته له آسمانه یو ملک پیغمبر رالیږلی وی( ځکه د هرې ډلې لاربښود باید د هغوی له جنسه وی).

قُلۡ كَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدَۢا بَيۡنِي وَبَيۡنَكُمۡۚ إِنَّهُۥ كَانَ بِعِبَادِهِۦ خَبِيرَۢا بَصِيرٗا ﴿٩٦﴾

( او بیا ورته) ووایه: همدا کفایت کوی چې الله تعالی زما او ستاسو ترمنځ( زما د نبوت د اثبات لپاره) شاهد دی،بیشکه چې هغه د خپلو بندګانو په حال ډیر ښه خبر دی.

وَمَن يَهۡدِ ٱللَّهُ فَهُوَ ٱلۡمُهۡتَدِۖ وَمَن يُضۡلِلۡ فَلَن تَجِدَ لَهُمۡ أَوۡلِيَآءَ مِن دُونِهِۦۖ وَنَحۡشُرُهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ عَلَىٰ وُجُوهِهِمۡ عُمۡيٗا وَبُكۡمٗا وَصُمّٗاۖ مَّأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُۖ كُلَّمَا خَبَتۡ زِدۡنَٰهُمۡ سَعِيرٗا ﴿٩٧﴾

او چاته چې الله تعالی هدایت وکړی، په حقیقت کې هماغه په سمه لار روان دی، او څوک چې( د خپل عناد او لجاجت په سزا کې) د الله تعالی له خوا ګمراه شوی وی،ته به هیڅکله د دغه ډول کسانو لپاره بل ملاتړی او مرستندوی ونه مومې او مونږ به یې د قیامت په ورځ پړمخې راکاږو، ړانده، ګونګیان او کاڼه. ورتګ یې دوزخ ته دی، هغه دوزخ چې که یوه لمبه یې لږ څه سړه شی، بله یې راپورته کیږی.

ذَٰلِكَ جَزَآؤُهُم بِأَنَّهُمۡ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَقَالُوٓاْ أَءِذَا كُنَّا عِظَٰمٗا وَرُفَٰتًا أَءِنَّا لَمَبۡعُوثُونَ خَلۡقٗا جَدِيدًا ﴿٩٨﴾

دا سزا ځکه هغوی ته ورکړی کیږی چې زمونږ په آیتونو کافر شوی او ویل یې: آیا مونږ چې وراسته هډوکی او له خاورې سره خاورې شو، نو بیا به هم بیرته راژوندی کیږو؟

۞أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّ ٱللَّهَ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ قَادِرٌ عَلَىٰٓ أَن يَخۡلُقَ مِثۡلَهُمۡ وَجَعَلَ لَهُمۡ أَجَلٗا لَّا رَيۡبَ فِيهِ فَأَبَى ٱلظَّٰلِمُونَ إِلَّا كُفُورٗا ﴿٩٩﴾

آیا په دې فکر نه کوی، الله تعالی چې آسمانونه او ځمکه یې پیدا کړی دا طاقت هم لری چې دوی( له ورستیدو او خاورې کیدو وروسته) بیا راژوندی کړی. د دوی لپاره د ژوند یوه خاصه موده ټاکل شوی چې هیڅ تردید پکې نشته خو ظالمان د ناشکرۍ او کفران نه غیر بله خبره نه لری.

قُل لَّوۡ أَنتُمۡ تَمۡلِكُونَ خَزَآئِنَ رَحۡمَةِ رَبِّيٓ إِذٗا لَّأَمۡسَكۡتُمۡ خَشۡيَةَ ٱلۡإِنفَاقِۚ وَكَانَ ٱلۡإِنسَٰنُ قَتُورٗا ١٠٠

ای پیغمبره! ( دغو کافرانو او په دنیوی عیش او عشرت کې مستو مستکبرینو ته) ووایه : که زما د رب د رحمتونو ټولې خزانې ستاسو په واک کې وی بیا به هم د فقر او تنګلاسی له ویرې، په انفاق کې بخل وکړی، او یقیناً چې انسان بخیل او زړه تنګی دی.

وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا مُوسَىٰ تِسۡعَ ءَايَٰتِۭ بَيِّنَٰتٖۖ فَسۡـَٔلۡ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ إِذۡ جَآءَهُمۡ فَقَالَ لَهُۥ فِرۡعَوۡنُ إِنِّي لَأَظُنُّكَ يَٰمُوسَىٰ مَسۡحُورٗا ١٠١

او بیشکه چې موږ موسی ته نهه ښکاره معجزې ورکړی، چې( د هغو په باب) له بنی اسرائیلی( پوهانو) څخه پوښتنه کولی شې، نو کله چې موسی هغوی ته ورغی، فرعون( د معجزاتو په لیدلو سره) وویل: ای موسی ګومان مې دا دی چې ته کوډو وهلی یې.

قَالَ لَقَدۡ عَلِمۡتَ مَآ أَنزَلَ هَٰٓؤُلَآءِ إِلَّا رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ بَصَآئِرَ وَإِنِّي لَأَظُنُّكَ يَٰفِرۡعَوۡنُ مَثۡبُورٗا ١٠٢

موسی وویل: ته( پخپل زړه کې) ښه پوهیږې چې دغه ټولې معجزې د آسمانونو او ځمکې رب نازلې کړی او هره یوه څرګنده معجزه (زما د نبوت غوره ثبوت دی) او ای فرعونه! پوخ باور مې دا دی چې د تباهی په لور روان یې.

فَأَرَادَ أَن يَسۡتَفِزَّهُم مِّنَ ٱلۡأَرۡضِ فَأَغۡرَقۡنَٰهُ وَمَن مَّعَهُۥ جَمِيعٗا ١٠٣

( فرعون چې د موسی علیه السلام ورځ په ورځ زیاتیدونکی نفوذ ورته د فرعونی نظام په مقابل کې سخت تهدید ښکاریده ) تصمیم ونیو چې بنی اسرائیل ټول ، له ( مصر) نه وباسی خو موږ، فرعون او لښکریان یې له یوې مخې( د قلزم په بحیره کې) ډوب کړل.

وَقُلْنَا مِنۢ بَعْدِهِۦ لِبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ٱسْكُنُوا۟ ٱلْأَرْضَ فَإِذَا جَآءَ وَعْدُ ٱلْـَٔاخِرَةِ
جِئْنَا بِكُمْ لَفِيفًا ﴿١٠٤﴾

او ( د فرعون له غرقیدو) وروسته مو بنی اسرائیلو ته وویل: اوس تاسو په دې ځمکه( مصر او شام کې هوسا او آرام )ژوند وکړی، کله چې د آخرت وعده راورسی،( تاسو او ستاسو تباه شوی دښمنان به ټول د محشر میدان ته) احضار کړو( او ترمنځ به مو په حقه فیصله وشی) .

وَبِٱلْحَقِّ أَنزَلْنَٰهُ وَبِٱلْحَقِّ نَزَلَ ۗ وَمَآ أَرْسَلْنَٰكَ إِلَّا مُبَشِّرًا وَنَذِيرًا ﴿١٠٥﴾

او مونږ دا قرآن په حقه نازل کړی او په حقه نازل شوی ( او له هر ډول تحریف نه پاک دی ) او ته یوازې مؤمنانو ته( د جنت) د زیری ورکوونکی او کافرانو ته له( عذاب نه) د ویرونکی په حیث لیږل شوی یې.

وَقُرْءَانًا فَرَقْنَٰهُ لِتَقْرَأَهُۥ عَلَى ٱلنَّاسِ عَلَىٰ مُكْثٍ وَنَزَّلْنَٰهُ تَنزِيلًا ﴿١٠٦﴾

او قرآن مو برخه برخه کړی چې ته یې هم په وقفو او آرام سره خلکو ته واوروې،( ترڅو وربانديې ښه وپوهيږی او عمل وربانديې وکړی) هو- مونږ دا قرآن په تدریجی توګه نازل کړی دی.

قُلْ ءَامِنُوا۟ بِهِۦٓ أَوْ لَا تُؤْمِنُوٓا۟ ۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْعِلْمَ مِن قَبْلِهِۦٓ إِذَا يُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ
يَخِرُّونَ لِلْأَذْقَانِ سُجَّدًا ﴿١٠٧﴾

(ای پیغمبره! ووایه: که تاسو ایمان راوړی که نه، خو هغه کسان چې لا پخوا ورته (د قرآن) پوهه او معرفت ورکړی شوی، کله چې ورته قرآن واورول شی، (د الله تعالی حضور ته) پرمخې په سجدو پریوزی.

وَيَقُولُونَ سُبْحَٰنَ رَبِّنَآ إِن كَانَ وَعْدُ رَبِّنَا لَمَفْعُولًا ﴿١٠٨﴾

او وایی: پاک دی زمونږ رب. او بیشکه چې (مؤمنانو ته د اجر او کافرانو ته د سزا په باب) زمونږ د رب وعده پوره کیدونکی او تطبیق کیدونکی ده.

وَيَخِرُّونَ لِلْأَذْقَانِ يَبْكُونَ وَيَزِيدُهُمْ خُشُوعًا ۩ ﴿١٠٩﴾

او په ژړا او سلګو کې په سجدو پریوزی( او د هر قرآنی آیت په اوریدو یې) خشوع او تواضع نوره هم زیاتیږی .

قُلِ ٱدۡعُواْ ٱللَّهَ أَوِ ٱدۡعُواْ ٱلرَّحۡمَٰنَۖ أَيّٗا مَّا تَدۡعُواْ فَلَهُ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰۚ وَلَا تَجۡهَرۡ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتۡ بِهَا وَٱبۡتَغِ بَيۡنَ ذَٰلِكَ سَبِيلٗا ﴿١١٠﴾

( ای پیغمبره! خلکو ته) ووایه: که د الله په نوم دعا وکړئ او که د رحمان په نوم . هر نوم چې یاد کړئ ( په اصل کې مو واحد او لاشریک ذات ته دعا وړاندې کړې بیشکه چې د «الله» او «رحمان» په شمول) ټول غوره نومونه الله تعالی ته ځانګړی دی، او د لمانځه قرأت دې باید نه په ډیر اوچت اواز او چیغو وی او نه ډیر ټیټ، بلکه ( د جهر او اخفا ترمنځ یې ) په متوسط حد کې وساته.

وَقُلِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي لَمۡ يَتَّخِذۡ وَلَدٗا وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ شَرِيكٞ فِي ٱلۡمُلۡكِ وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ وَلِيّٞ مِّنَ ٱلذُّلِّۖ وَكَبِّرۡهُ تَكۡبِيرَۢا ﴿١١١﴾

او ووایه ټولې ستاینې الله تعالی ته ځانګړې دی چې نه یې څوک په زوی والی نیولی، نه ورسره په واکمنی کې څوک شریک دی، او نه کمزوری دی چې( د کایناتو د چارو د تدبیر لپاره) کوم مرستندوی ته اړتیا ولری. نو پرله پسې د هماغه ذات لویی او عظمت بیانوه.

« تمت سورة الاسراء( بنی اسرائیل) بعون الله و حسن توفیقه ،لله الحمد والمنة»

==========================